

# ایا ستاسو ماشوم د سربو له امله له مسمومیت خطر سره مخ دی؟

لاندې د هرې پوښتنې لپاره د "**هو**" یا "**نه**" ځواب په نښه کړئ ترڅو معلومه کړئ چې ایا ستاسو د ماشوم لپاره باید په وینه کې د سربو د شتون معاینات ترسره شي او که نه.

| | | |
|---|---|---|
| **1)** ایا ستاسو ماشوم د Medicaid یا WIC لپاره وړ دی یا یې تر لاسه کوي؟ | نه ____ | هو ____ |
| **2)** ایا ستاسو ماشوم په یوه داسې کور کې ژوند کوي یا په مکرر ډول یوه داسې کور ته ځي چې له 1960 کال څخه مخکې جوړ شوی دی؟ | نه ____ | هو ____ |
| **3)** ایا ستاسو ماشوم په یوه داسې کور کې ژوند کوي یا په مکرر ډول یوه داسې کور ته ځي چې له 1978 کال څخه مخکې جوړ شوی وي او ودانیز رنګ یې پوستکی اړولی وي، یا یې اړوي او یا په دې نږدې وختونو کې یې هم د بیارغونې چارې روانې وي یا په پام کې وي؟ | نه ____ | هو ____ |
| **4)** ایا ستاسو ماشوم یو کډوال دی؟ | نه____ | هو ____ |
| **5)** ایا ستاسو ماشوم له متحده ایالاتو څخه بهر پیدا شوی دی؟ | نه ____ | هو ____ |
| **6)** ایا ستاسو ماشوم د سربو سازولو د فعال ماشین، د بېټریو د بیاجوړولو د کارخانې، یا نورو داسې صنعتي سیمو ته نږدې اوسیږي چې ښایي له هغوی څخه د سربو اخراج کیږي؟ | نه ____ | هو ____ |
| **7)** ایا ستاسو ماشوم له یوه داسې بالغ شخص سره یوځای اوسیږي کوم چې د خپلې دندې یا د خوښې وړ فعالیتونو له کبله ښایي له سربو سره مخامخ کیږي؟ | نه ____ | هو ____ |
| **8)** ایا ستاسو ماشوم داسې ورونه خویندې یا په کور کې نور داسې څوک لري چې په دې وروستیو کې له سربو سره مخامخ شوي وي؟ | نه ____ | هو ____ |

که تاسوپورتنیو پوښتنو ته د "**هو**" ځواب ورکړی وي، **نو ستاسو ماشوم ښایي د سربو له امله د مسمومیت له خطر سره مخ وي.** د خپل ماشوم په وینه کې د سربو د معایناتو د ترسره کولو لپاره د خپل روغتیایي پاملرنې له چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ.

د دې لپاره چې له سربو څخه د خپلو ماشومانو د خوندیتوب چټکې او اسانه لارې زده کړئ، په اړه یې له دې ویب پاڼې لیدنه وکړئ
/www.vdh.virginia.gov/leadsafe

VDH VIRGINIA DEPARTMENT OF HEALTH

Virginia Childhood Lead Poisoning Prevention Program